## کمیسیون مستقل شکایات انتخاباتی
## Independent Electoral Complaints Commission

# نظارت همگانی ؛ عدالت اجتماعی

**هدف از ایجاد کمیسیون مرکزی شکایات انتخاباتی چیست؟**

کمیسیون مرکزی شکایات انتخاباتی به منظور رسیدگی به اعتراضات و شکایات ناشی از تخطی، تخلف و شناسایی جرایم مربوط به انتخابات تشکیل گردیده، کمیسیون مرکزی شکایات انتخاباتی متشکل از پنج عضو میباشد.

**وظایف کمیسیون مرکزی شکایات انتخاباتی چیست؟**

به اساس ماده «۳۰» قانون انتخابات کمیسیون مرکزی و کمیسیون های ولایتی شکایات دارای صلاحیت های ذیل می باشند:

۱- رسیدگی به موارد اعتراض بر فهرست کاندیدان و رأی دهندگان و شرایط و اوصاف کاندیدان که در جریان انتخابات مطرح میشوند.

۲- رسیدگی به شکایات ناشی از تخلفات انتخاباتی، مشروط بر اینکه، شکایت مطابق احکام قانون انتخابات در زمان معینه آن ثبت گردیده باشد.

۳- صدور توصیه، اخطار و دستور به اقدام اصلاحی به شخص یا ادارهٔ که مرتکب تخلف گردیده است.

۴- وضع جریمه های نقدی حسب احوال مطابق احکام قانون انتخابات.

۵- صدور دستور در مورد شمارش مجدد آراء در مراکز رای دهی مشخص، قبل از اعلام نتایج انتخابات.

٦- بی اعتبار شناختن اوراق رای دهی فاقد شرایط لازم.

۷- حذف کاندید توسط کمیسیون مرکزی یا ولایتی شکایات در صورت که به رویت اسناد معتبر ثابت گردد که مطابق احکام قانون انتخابات واجد شرایط کاندید شدن نبوده است.

**تصمیم کمیسیون مرکزی شکایات**

**مادهٔ نود و سوم:**

(۱) تصمیم کمیسیون مرکزی شکایات در رابطه به رسیدگی به اعتراضات و شکایات انتخاباتی، نهایی می باشد، مگر در حالات ذیل:

۱- حذف نام کاندید از فهرست کاندیدان.

۲- ابطال آرای یک مرکز یا حوزه رأی دهی.

(۲) هرگاه کمیسیون، تصمیم کمیسیون شکایات را در حالات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده رد نماید برای حل اختلاف، هیئت مختلط به تعداد مساوی از اعضای هر دو کمیسیون ایجاد می گردد.

هیئت مختلط، اختلاف را مورد بررسی قرار داده در زمینه تصمیم اتخاذ می نماید. این تصمیم نهائی می باشد.

(۳) هر گاه هیئت مختلط نتواند، اختلاف نظر را رفع کند در این حالت موضوع به محکمه اختصاصی احاله می گردد.

(٤) ستره محکمه به منظور رسیدگی به اختلاف مندرج فقرهٔ (۳) این ماده، محکمه اختصاصی را حسب احوال در مرکز و ولایات ایجاد می نماید.

(٥) محکمه اختصاصی قضایای احاله شده را با رعایت تقویم انتخاباتی به اسرع وقت مورد رسیدگی قرار می دهد.

(٦) فیصله محکمه اختصاصی در زمینه قطعی و نهائی می باشد.

(۷) کمیسیون، کمیسیون شکایات و سایر نهاد های ذیربط مکلف اند، با محکمه اختصاصی همکاری نمایند.

**کمیسیون مرکزی شکایات انتخاباتی، جهت رسیدگی به شکایات، کدام نوع تادیبات را روی دست می گیرد؟**

۱- توصیهَ، هشدار یا راهنمایی برای اقدام اصلاحی در برابر شخص یا اداره خاصی؛

۲- تحمیل جریمه های نقدی بر اساس مواد قانون انتخابات؛

۳- شمارش دوباره آراء در مراکز خاص رای دهی، قبل از اعلام و تصدیق نتایج نهایی انتخابات؛

۴- غیر معتبر ساختن ورق های رای دهی، که با شرایط مشخص مطابقت نمی کنند.

**درج و ثبت اعتراض و شکایت انتخاباتی و چگونگی رسیدگی به آن:**

(۱) مطابق ماده «۹۱»قانون انتخابات اشخاص، احزاب سیاسی و سایر نهاد ها میتوانند، در خلال مدت(۲) روز کاری بعد از نشر فهرست ابتدایی کاندیدان، در رابطه به عدم واجد شرایط بودن آنان اعتراض درج نمایند.

(۲) کاندید یا نمایندهٔ آن می تواند حین رای دهی و شمارش آراء و یا در خلال مدت (۲) روز کاری بعد از روز برگزاری انتخابات، در مرکز و ولایات، شکایت درج نماید.

(۳) کمیسیون های ولایتی شکایات مکلف اند، در خلال مدت (۱۵) روز کاری بعد از ختم زمان ثبت و درج شکایات و اعتراضات، نتایج بررسی های خویش را نهایی و نشر نمایند.

(۴) هرگاه کاندید شاکی یا معترض به تصمیم کمیسیون ولایتی شکایات قناعت نداشته باشد در خلال مدت (۳) روز کاری، بعد از نشر تصمیم، میتواند شخصاً و یا توسط نماینده با صلاحیت خویش طور کتبی در کمیسیون مرکزی شکایات، اعتراض درج نماید.

(۵) کمیسیون مرکزی شکایات مکلف است، موارد اعتراض بر تصامیم کمیسیون های ولایتی شکایات را به رویت اسناد و مدارک، بررسی مجدد نموده، تصمیم نهایی را اتخاذ نماید.

(٦) کمیسیون مرکزی شکایات نمی تواند، بررسی شکایات وارده و موارد اعتراض بر تصامیم کمیسیون های ولایتی را بیشتر از (۱۵) روز کاری، به تأخیر اندازد.

(۷) کاندید و یا نماینده آن می تواند در سه روز بعد از اعلان نتایج ابتدائی، اعتراض یا شکایت خود را در کمیسیون شکایات ثبت نمائید.

**فرق بین اعتراض و شکایت انتخاباتی چیست؟**

هر نوع ادعای کتبی که برعلیه تصامیم کمیسیون های ولایتی شکایات، روند شمارش آراء و فهرست رای دهندگان و کاندیدان در زمان معینه آن ثبت و به کمیسیون شکایات تسلیم گردیده باشد، اعتراض تلقی می گردد.

شکایت عبارت است از هر نوع ادعای کتبی به استثنای موارد (اعتراض بر تصامیم کمیسیون های ولایتی شکایات، روند شمارش آراء و فهرست کاندیدان و رای دهندگان) که در رابطه به روند انتخابات ثبت وبه کمیسیون شکایات تسلیم گردیده باشد.

برای معلومات مزید به ویب سایت کمیسیون شکایات انتخاباتی www.iecc.gov.af مراجعه نمائید.

**درج شکایت دقیق و مستند،**
**متضمن سلامت و شفافیت انتخابات است**

تهیه و ترتیب: ریاست اطلاعات و آگاهی عامه

# دټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون
# Independent Electoral Complaints Commission

## ټولیزنظارت؛ ټاکنیزعدالت

### د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون د جوړيدو موخه څه ده؟
له سرغړونې، تخلف او په ټاکنو پورې اړونده جرمونو څخه، را پيدا شوو اعتراضونو او شکايتونو ته د رسيدگی په منظور، له پنځو غړو جوړ د ټاکنيزو شکايتونو مرکزي کمېسيون رامنځته کيږي.

### د شکايتونو د کمېسيون واکونه
دټاکنوقانون ۳۰ مادي په اساس د شکايتونو مرکزي کمېسيون او ولايتي کمېسيونونه د لاندې واکونو لرونکی دي:

۱- د نوماندانو او رايه ورکوونکو پر فهرست د اعتراض او د هغو نوماندانو چې د ټاکنو په بهير کې مطرح کېږی، شرايطو او اوصافو ته د رسيدگی موارد.

۲- له ټاکنيزو سره غړونو څخه را پيدا شوو شکايتونو ته رسيدگی، پدې شرط چې شکايت دټاکنو قانون له حکمونو سره سم، د هغه پر ټاکلي وخت ثبت شوی وي.

۳- هغه شخص يا اداري ته چې د سرغړونې مرتکب شويدي، د توصيې، اخطار او په اصلاحي أقدام د دستور صادرول.

۴- د ټاکنو قانون د حکمونو مطابق له احوالو سره سم د نغدي جريمو وضع کول.

۵- د ټاکنو د پايلو له تصديق او اعلام د مخه د رايې ورکونې په مشخصو مرکزونو کې د رايو بيا شميرنی په هکله د دستور صادرول.

٦- د لازمو شرايطو نه لرونکو رايې ورکونې د پاڼو بې اعتباره پيژندل.

۷- دشکايتونو مرکزي يا ولايتی کميسيون لخوا د وروستني نوم لړڅخه نوماند حذفول، په هغه صورت کي چی د معتبرو سندونو له مخي ثابته شي چی د ټاکنونو قانون له حکمونو سره سم، د نوماند کيدو د شرايط لرونکی ندی.

### د شکايتونو د مرکزي کمېسيون تصميم
دري نوي يمه ماده:

(۱ ) ټاکنيزو اعتراضونو او شکايتونو ته د رسيدگی په اړوند د شکايتونو د مرکزي کمېسيون تصميم وروستی دی، خو په لاندې حالاتو کي:

۱ـ د نوماندانو له فهرست څخه د نوماند د نوم حذف.

۲ـ د رايې ورکونې د يوه مرکز يا حوزې د رايو ابطال.

(۲ ) که چېرې کمېسيون، د دې مادې د (۱) فقرې په درج شوو حالاتو کې د شکايتونو د کمېسيون تصميم رد کړي، د اختلاف د لري کولو لپاره، د دواړو کمېسيونونو له غړو څخه په مساوي شمېر ګډ هيئت رامنځته کېږي.

ګډ هيئت اختلاف تر بررسی لاندې نيسي، په دې برخه کې تصميم نيسی. دغه تصميم وروستی دی.

(۳ ) که چېرې ګډ هيئت و نه کړای شي د نظر اختلاف لري کړي، په دې حالات کې موضوع اختصاصي محکمې ته احاله کېږي .

(۴) ستره محکمه د دې مادې د (۳) فقرې درج شوي اختلاف ته د رسيدگی په منظور، له احوالو سره سم، په مرکز او ولايتونو کې اختصاصي محکمه رامنځنه کوي.

(۵) اختصاصي محکمه احاله شوې قضيې د ټاکنيز تقويم په رعايتولو سره په ډير لنډ ممکن وخت کې تر رسيدگی لاندې نيسي .

(٦) په دې برخه کې د اختصاصي محکمې فيصله قطعي او وروستتی ده.

(۷) کمېسيون، د شکايتونو کمېسيون او نور اړوند بنسټونه مکلف دي، له اختصاصي محکمې سره همکاری وکړي.

### د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون د رسيدگی په موخه کوم ډول تاديبات ترسره کوي؟
۱- درغلي کوونکي شخص يا اداري ته توصيه، اخطار يا د اصلاح لپاره لارښوونه.

۲- د قانون د مواد پر اساس نقدي جريمه کول.

۳- د رايو ورکولو په خاصو مرکزونو کې د ټاکنو د وروستيو نتيجو له اعلان او تصديق مخکي د رايو بيا شميرل

۴- د هغو رای پاڼو اعتبار ختمول، چې له خاصو شرايطو سره برابرې نه دي.

### د ټاکنيز شکايت او اعتراض درج، ثبت او د رسيدگی څرنګوالی
۱- د ټاکنو قانون د ۹۱ مادي په اساس اشخاص، سياسی ګوندونه او نور بنسټونه کولای شی، د نوماندانو د ابتدايي نوم لړ تر خپريدو وروسته د (۲) کاري ورځو مودې په ترځ کې، د هغوی د شرايطو د نه درلودلو په اړه اعتراض درج کړي.

۲- نوماند او يا د هغه استازی کولای شی، د رايې ورکولو او رايې شمېرلو پر مهال او يا د ټاکنو د ترسره کېدو له ورځې وروسته د (۲) کاري ورځو مودې په ترځ کې په مرکز او ولايتونو کې، شکايت درج کړي.

۳- د شکايتونو ولايتي کمېسيونونه مکلف دي، د اعتراضونو او شکايتونو د ثبت او درج د وخت له پايته رسيدو وروسته د (۱۵) ورځو مودې په ترځ کې د دغو شکايتونو په اړه د خپلو بررسيو پايلې ورستنی او خپرې کړی.

۴- که چېرې شاکي يا معترض نوماند د شکايتونو د ولايتي کمېسيون پر پرېکړه قناعت و نه لري، کولای شي د تصميم له ابلاغ وروسته د (۳) کاري ورځو مودې په ترځ کې، پخپله يا د خپل واکمن استازي په وسيله د شکايتونو په مرکزي کمېسيون کي په ليکلي ډول اعتراض درج کړی.

۵- د شکايتونو مرکزي کمېسيون مکلف دی، د ولايتي کمېسيونونو پر پريکړو باندې د اعتراض موارد د اسنادو او مدارکو له مخې بيا بررسي کړي، ورستنی تصميم ونيسي.

٦- د شکايتونو مرکزي کمېسيون نشي کولای، د راغلو شکايتونو او د ولايتي کمېسيونونو پر تصميمونو باندې د اعتراض د مواردو بررسي، له (۱۵) کاري ورځو څخه زيات وځنډوي.

۷- نوماند او يا د هغه استازی کولی شي د لومړنيو پايلو له اعلان څخه وروسته په دريو ورځو کې، خپل اعتراض يا شکايت د شکايتونو کمېسيون کې ثبت کړي.

### د ټاکنيز شکايت او اعتراض توپير څه دی؟
د ټاکنيزو شکايتونو ولايتی کميسيونونو په پريکړو، د رای شميرنی په بهير او د رای ورکوونکو او نوماندانو په نوم لړ باندې هر ډول ليکلی ادعا چې په ټاکل شوي وخت ټاکنيزو شکايتونو کميسيون ته تسليم کړی وي، اعتراض شميرل کيږي. شکايت عبارت دی له هر ډول کتبي ادعا په استثنا دي (د ټاکنيزو شکايتونو ولايتی کميسيونونو په پريکړو، د رای شميرنی په بهير او د رای ورکوونکو او نوماندانو په نوم لړ اعتراض) چې د ټاکنو په اړه ثبت او د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون ته تسليم شوی وي.
د لا ډيرو معلوماتو لپاره د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون ويب پاڼې www.iecc.gov.afته مراجعه وکړئ.

**د کره او مستند شکايت درجول د رڼو او سالمو ټاکنو ضمانت کوي.**

ترتيب او چمتو کول د اطلاعات او عامه پوهاوي رياست